مطبوعاتي اعلاميه

د افغانستان د عامه روغتیا وزارت او د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي ادارې لخوا د نري رنځ (توبرکلوز) د کنترول پروژه پیل کړه

د ۲۰۱۵ کال د اپریل۳۰ مه نېټه، مزارشریف، افغانستان:- د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي ادارې د افغانستان د عامه روغتیا له وزارت سره ګډه د اپریل په اوه ویشتمه نېټه د دوشنبې په ورځ د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې کمپاین په لاره واچولو. ددې کمپاین موخه په نري رنځ د اخته افغانانو د تشخیص او درملنې په برخه کې د افغان ډاکټرانو او روغتیايي کارکوونکو د وړتیا لوړوالی دی.

نری رنځ یوه انتاني ناروغي ده چې هرکال تقریباً ۱۳۰۰۰ افغانان وژني. پداسې حال کې چې نوموړې ناروغي د سمې درملنې په واسطه تداوي کیدای شي، خو د خورا زیاتو خلکو هیڅکله هم درملنه نده شوې. هغه افغانان چې په ګڼ میشتو ښاري سیمو کې ژوند کوي، په ځانګړې توګه په نري رنځ د اخته کیدو له خطر سره مخ دي. سربېره پردې، په کلیوالو سیمو کې چیرې چې روغتیايي خدمتونو ته د لاسرسي کچه محدوده ده، د نري رنځ د ناروغۍ تشخیص او درملنې ته د خلکو زیات لاسرسی هم یوه ننګونه ده. د امریکا د متحده ایالاتو پرمختیايي اداره به د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې د پروژې له لارې د خصوصي او دولتي سکتورونو د د ډاکټرانو او روغتیايي کارکوونکو سره کار وکړي ترڅو د نوموړې ناروغۍ د وختي تشخیص او معاینې چارې ښې او د زیانمنو شوو کسانو لپارهد درملنې ساحه پراخه کړي.

د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې کمپاین به د افغانستان په پنځو لویو ښارونو-- کابل، مزارشریف، کندهار، هرات او جلال آباد باندې تمرکز ولري او د ۱۳ ولایتونو – بغلان، بدخشان، هرات، تخار، جوزجان، فاریاب، بامیان، خوست، کندهار، ننګرهار، بلخ، غزني او پکتیکا تر کلیوالو سیمو به ورسیږي ترڅو د افغانستان د ۵۰ سلنې څخه زیاتو وګړو لپاره د نوموړې ناروغۍ د درملنې خدمتونه ښه کړل شي.

د توبرکلوز په وړاندې د مبارزې پروژه د ټولو افغانانو لپاره د روغتیايي خدمتونو د ښه والي په برخه کې د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي ادارې د پانګونې یوه برخه ده. د ۱۵ میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت دا پنځه کلن پروګرام به د افغانستان د عامه روغتیا له وزارت سره مرسته وکړي ترڅو په افغانستان کې د نري رنځ د ناروغۍ د له منځ وړلو په برخه کې خپله موخه ترلاسه کړي.

د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیايي ادارې د پروګرامونو په اړه د لازیاتو معلوماتو او د مرکې د غوښتنې لپاره، مهرباني وکړئ د KabulAIDdoc@usaid.gov سره اړیکه ونیسئ او یا http://www.usaid.gov/Afghanistan ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

The American people, through the U.S. Agency for International Development, have provided economic and humanitarian assistance worldwide for more than 50 years."

USAID on Facebook | USAID on Twitter | USAID on YouTube | USAID on Flickr